مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکترمحب زغم

۲۰۲۳/۰۲/۲۲

د تنیوالې لهجې څو لغتونه

خدای دې استاد شپون ډېر کلونه ژوندی لري. ما له دوو کلونو راهیسې نیت کړی و، چې د لهجو لغات به راټولوم؛ خو پخپله لټ یم، داسې ډېر سرونه مې خیشته کړي دي؛ خو خرییلي مې نه دي. اوس چې استاد دې کار ته ملا تړلې ده، زه هم وهڅېدم چې د خپلې لهجې "تنیواله لهجه" ځینې نادر لغتونه ورسره شریك کړم. ځنګه چې ما په کلي کې ډېر لږ وخت تېر دی؛ نو له پلار څخه مې مرسته وغوښته. البته د استاد دغه نوښت ټولو ته یو سبق دی، چې د انټرنټ په مرسته ډېر ګټور کارونه کولای شو.

خو په دې برخه کې یوه ستونزه هم لرو. ځنګه چې د یوې لهجې نادر لغتونه د نورو لهجو ویونکو ته نا اشنا دي، نو د تلفظ په برخه کې به یې له ستونزې سره مخ شي. د دې ستونزې د حل لپاره څو لارې شته:

۱. کولای شو له تورو سره اعراب (زور، زېر، پېښ) ولیکو. خو بیا به هم ځینې ستونزې پاتې شي، لکه د معروف او مجهول "واو" مسئله. د کلمې خج هم په دې لاره نه شو ښییلای.

۲. په لاتینه الفبا باندې د کلمو د تلفظ لیکل. دلته به هم ستونزه دا وي، چې د زور او زورکي توپیر به سره نه شو کولای. همدارنګه داسې معیار نشته چې کومه "ی" په کوم توري باندې ولیکو.

۳. د استاد شپون خبره ده چې د پخوانو قاموسونو په دود کولای شو د نااشنا کلمو تلفظ د اشنا کلمو په راوړلو وښییو. لکه "پونه" د "چونه" پر وزن. د دې میتود ستونزه دا ده چې د هرې کلمې لپاره د هموزنې کلمې موندل به اسانه نه وي.

۴. له فونیمیکې الفبې څخه کار اخیستل. دا میتود که څه هم تر ډېره د کلمو دقیق تلفظ ښییلای شي؛ خو له یوې خوا هر چا ته معلومې نه دي او له بلې خوا په دې اړه د پوهانو په نظر کې هم اختلاف شته، هغه فونیمیکې الفبې چې پوهاند مجاور احمد زیار یې کاروي، له هغې چې د علومو اکاډمۍ یې کاروي، توپیر لري. له بلې خوا د ځینو تورو لپاره داسې نښې وضع شوې دي، چې ما په خپل کمپیوټر کې پیدا نه شوای کړی. دغه جدول استاد زیار په خپل کتاب "لیکلار ښود" کې وړاندې کړی دی، د جدول په تشو کورګیو کې داسې نښې وې، چې زما د کمپیوټر په سېمبولونو کې درك نه لري.

توری	فونیمیك سیمبول	توری	فونیمیك سیمبول	توری	فونیمیك سیمبول
ا ، ه (زور)	A	ډ		م	m
ه (زورکی)	ə	ر	r	ن	n
آ	ā	ړ		ڼ	
ب	B	ز	z	و(معروف یا اوږد)	o
پ	P	ژ	ž	و (مجهول، لنډ)	u
ت	T	ږ		و (پیواکه)	w
ټ	T	س	s	ه، هـ	h

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

ج		ش	š	ې	e
چ	č	ښ		ي	i
څ	C	غ	ð	ی (ښوېاکه)	y
ځ	J	ك	k		
خ	X	گ	g		
د	D	ل	l		

په دې هیله چې پوهاند صاحب د ستونزې د حل لپاره اسانه لار راوښيي، چې ټول دوستان ورنه ګټه واخلي.
یوه هیله له هغو ملګرو څخه چې د خپلو لهجو لغتونه رالیږي: که خپلې کلمې د الفبې په ترتیب سره سورت کړي، ښه به وي.
ما په دې لیکنه کې پورتنۍ فونیمیکې الفبې کارولې دي؛ خو د هغو تورو لپاره چې پورته جدول کې یې فونیمیك سېمبولونه نشته، ما له ناچارۍ په خپل سر دغه سېمبولونه لیکلي دي:

توری	فونیمیك سېمبول	توری	فونیمیك سېمبول	توری	فونیمیك سېمبول
ج	ĵ	ړ	ṛ	ښ	ş
ډ	ď	ږ	ź	ڼ	ṇ

بربزر brezar= غرمه
بژه bəža = ښېرې، پرې. کاغذ یې بیژه کړ= کاغذ یې وخیره.
په رېخه rexa pə= بیخي
پورې pore = عربي هېوادونه، منظور به یې د سمندر پورې غاړه وي. که د چا زوی په عربستان یا اماراتو کې وي، نو وايي "زی مې پېرې دی."
پونه Puna = له مزرو څخه جوړه ټوکرۍ
پۍ pay = شیدې
پیبور piyawar = هغه غوا یا مېږه چې ډېرې شیدې کوي. که چا ته تروې، مستې یا د شیدو بل محصول ورکړي، نو په دعا کې به درته وايي: خدای مو غوا درته پیبوره کړي.
پګړه pagaṛa = اشر، هغه کار چې یوه ډله کسان یې له بل سره د مرستې لپاره ترسره کوي.
ترخه زړی zaṛay tərkxə = بد خوی، ترینګلی
تل tal = توی. اوبه یې تلې کړې= اوبه یې تویې کړې.
جمه ĵama= مجلس، خبرې، غورې. جمه به وکړو= خبرې به سره وکړو.
جوبته ĵubata = د نارینو خادر، د پارسي د قدیفې مترادف. د خوست خلك له هماغه ټوکر څخه چې ځان ته جامې کوي، خادر هم جوړوي. هلته هېڅوك بې خولۍ او بې جوبتې نه ګرځي. په ژمي کې بیا د جوبتې پر ځای پټو اغوندي.
جر = دېوال
جر کول = را ځانه تاوول. جوبته جر کړه.
خرکه xaraka = د خور مصغر، خورکۍ
خلات xalāt = هغه پیسې چې د دعوې دواړه خواوې یې درېمګړو یا جرګه مارو ته ورکوي.
در زوړ دې وي wi de zoṛ dər = د مبارکۍ لپاره اصطلاح ده. جامې دې در زړې وې. بوټونه دې اخیستي؟ درزاړه دې وي.
دوستانی dostanay = ښېښ، د خسر خپلوان
روټی rotay = د وربشو ډوډۍ. پخوا چې نیستي ډېره وه، چا د شپې اسمان ته کتلي وو، بیا یې خدای ته سوال کړی و: خدایه! دا اسمان چې روټی وای، دا ستورې یې پیازان وای او سپوږمۍ د تروو جام وای، زه په مړېدای نه او دی تمامېدای نه.
رټ rət = قوي، جدي، ټکره، خراب
رټ یې کړ= خراب یې کړ. د ظاهرشاه په وخت کې حکومت غوښتل منګلو ته سرك تېر کړي. منګلو بغاوت وکړ. وروسته حکومت دوی سره غلې کړل او سرك یې تېر کړ، بیا یوه ولسي شاعر ورته شعر جوړ کړ: سرك به وېرکړې یا په زېر یا په رضو منګلو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

رټ یې کړئ بادشو منګلو مانا دا چې سرك به په زور یا په رضا ورکړئ؛ خو بادشاه خراب کړئ.
رنجه rənĵa = صافي، د توکر یوه ټوټه چې شیان وربانديې صفا کوو.
ژی žəy = د پاڼ سر یا د سیند غاړه
سیاله syala = دمه، استراحت
شله šala = سخت، ستونزمن. تنیواله ژبه ډېره شله ژبه ده.
شله غوښه ðwaşa šala = سره غوښه، بوټی، هغه غوښه چې هډوکي په کې نه وي او کوفته یا قیمه ځني پخېږي.
شیګره šigara = باران
عزیز aziz = د یوه پلار اولاده چې سره لرې وي، مثلاً په غورنیکه کې سره شریك وي.
کرچ krač = پای بېل، په یامه بانديې د ځمکې اړول. دوه پټي مې کرچ کړل.
کسي kasi = ګوري. وکسه = وګوره
کمر kamar = داسي تیږه چې په لینده یا مچنغوزه کې ځای شي او یا په لاس د ویشتلو وي. په کمر یې وویشتم.
کځ kac = د سیند یا د خوړ د غاړې پټی
لایه lāyə, lāya = وزګار
مرغ mrəð = بخت. د ناوې مبارکي په دې ټکو کې ورکول کېږي: د ناوې مرغ مو دې ښه وي. مانا دا چې خدای مو دې ناوې بختوره کړي.
مندته mandəta = زردالو
میلوه milawa= تاك، انګور
مړستون məṛastun = هدیره (حضیره) قبرستان
نیالي nyali = توشکه
نیايي nyayi = ماما
وچ موری moray wəč = شیر سوخته، خوارنجوکی، ډنګرکی
ورك warək = وروړك، د ورور مصغر د ناز په بڼه
ورینګی wringay = باران
درنده dranda = درمند ځای

دغه لغتونه مې پلار راته لیکلي دي:

بېبزه وهل wahəl babeza = ژبه وهل.
بد ریشه badriša = مزري پرې
برغنډ barðanď = د لرګیو د غوځولو په نخښه شوي ځایونه (په ساره بانديې نه په اوړدو)
بره ړه baraṛa = یونیم دوه متره لوړ بوټی له کمو پاڼو سره دی. چې سر یې غوځ کړې، شوده کوي او شوديې يې د ژاولو کار ورکوي، بېخ یې سوځول کېږي او په ایرو یې نسوار جوړېږي، خپله بوټی یې د سونګ لپاره استعمالېږي.
برېږ bareṛ = دستك (برېږونه جمع)
بنډی banďay = سرتاق، هغه لرګی چې د کړکی له پاسه په دېواله کې اېښودل کېږي.
بیلون bilun = ګندني ته ورته خو تر هغې نری بوټی چې د پیاز غونديې بېخ لري او ځیني خلك یې خوري.
پرګی pərgay = د خېړیو د ونې داني چې لکه جنغوزې دي او خلك باور لري چې د شکرې ناروغی ته ښې دي.
پونه puṇa = پټی
تری trəy = ناوه
تی tay = خوړ
تیر tir = برید، هغه کرښه چې برید معلوموي.
چمچې čamčay = د لرګیو یوه ټوټه چې د مټې او وښي تر منځ اېښودل کېږي چې د وښي وزن تکیه کړي.
خولنی xolanay = د زیتون داني
خټ بنی xat baṇay = د پخڅو د خټو غونداری چې تر دېواله پورې لاس په لاس لېږدي.
رزغی razðay = شاړه ځمکه
سپڼسیکی spaṇsikay = د نریو پاڼو او شنو ګلانو لرونکی بوټی چې خوړل کېږي.
سردری sardarəy = هغه لرګی چې د وره له پاسه په دېوال کې اېښودل کېږي او له پاسه یې خښتې یا پخڅې لګول کېږي.
شولنګ awlangš = پرخه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

ککړه وهل kakaṛa wahəl = کله چې څوك له چا سره شخړه کوي او بیا وروسته له ځان سره بونګېږي، دې ته وايي ککړه وهي. ککړه په اصل کې د هغې چرګې غږ دی چې پر هګیو کېني.
کوټکی kutakay = د غرو په لمنو یا په سمه کې هغه ځکمه چې تر شاوخوا ځمکو ټیټه او د کښت وړ وي او یا واښه په کې ډېره وي.
کوینی kawinay = ته دیګې، د کتغ (خصوصاً د وریجو) هغه برخه چې په دېګ پورې نښتي وي.
کټ بوڼ kat buṇ = کټ پړی، له مزرو جوړ پړی چې کټ ځنې جوړېږي.
کړوسی kaṛosay = د لوبیا او میو پلې.
لك کول lak kawəl = ایښودل (د نیالګیو) پنځه نیالګي مې لك کړل.
لېونی می lewanəy məy = د لوبیا په شان خدایي بوټی چې په جوارو کې شنه کېږي او ځینې خلك یې خوري، ډېر خوراك یې په سړي باندې نشه راولي.
مرمنډی marmanďəy = د اوږدو ریښو لرونکی بوټی چې د خوړونو او سیندونو په غاړو کې لك کېږي، چې ځمکې د سېلاب له شره وساتي.
منډ manď = د پخڅو یا اخېړ (کاه ګل) لپاره جوړه شوې خټه.
مونډه monďa = د ونې ښاخ (مونډونه جمع)
مونډه monďa = کار ته اوړه ورکول، چې پرې یې نږدې، ځان ورته مونډه کړه. مانا دا چې کار ته ډډه ولګوه.
میټون mitun = کوچنۍ سپینې لوبیا
مټ mət = منګ، د اوبو رسوب
مټکی mətkay = د ځېړیو ښاخونه چې د مال د خوراك لپاره یې اندوي.
مټه məta = تمبه، کار ته په جديت سره اوږه ورکول.
مټه məta = ستن، پایه
مټی matəy = چاټی، د یخو اوبو خاورین لوښی
مېره mera = پوله
نیامه nyama = ولجه، د لامالکي یا سرکاري ځمکې غصبول. نیامې یې وکړې = ځمکې یې غصب کړې.
وېشه weša = تیر ، هغه لرګی چې د کوټې د چت په اوږدو کې اچول کېږي او له پاسه یې بربړونه (دستکونه) د کوټې په ساره اچول کېږي.
ښخته jaxta = د ګاځرو په شان خدايي بوټی چې خوړل کېږي.
ښپیانګه şapyanga = د پرېږو پاڼو بوټی چې د ایرو غونډې رنګ لري او دانې یې لکه سپېلنې وي. د نس ناستې او پېچش لپاره ټك پترى ده.
ښونه şawna = د زیتون ونه
ګړی gaṛay = منګی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ